# آشنايي

ليكوال عمرننګيار-مسكو

دمنځيوزده كړوپه لړكې ورسره اشناشوم دغه اشنايي موترپخي ميني پوري ورسيده ان
وروسته دلوړوزده كړو دپاى ته رسولواوپه خپل مسلك كې دكارپه موده كې هم سره
موخوله په خوله ژوندتيروه په وروستيوكلونوكې يي راته زړه وهلي وٌ نورمې
دااحساسوه چې خواريږم اوخپله روغتيادلاسه وركوم.ځوواري مې تصميم ونيوچې
ورنه ځان خلاص كړم اوتري جلاشم داكارمې څوځله وكړخوبياهم زړه مې
صبرنشو،څنګه مې كولاى شوچې په يوه واري دخپل كلونوكلونودژوند ملګرې څخه
جداشم؟!اونوريي يادنكړم!خيرڅه موده نورهم كله پخلا اوكله جداموو‌خت تيركړيوه
ورځ مې چې دغه ورځ زمادژوند په  تاريخ كې نه هيرېدونكي ورځ وګرځيده دتل
لپاره مې تل پاتي اوهميشني تصميم ونيوچې نوريي خوشي كړم اوهڅوبه يي ياد
نكړم.دازمادژونداوسلامتيادښمن،هودناريته په شان مې هوډترسره كړ،اوس زه پاتي يم
اودهغه هجران.
نوكه دزړه حال مې پوښتې كله يي چې دنوروسره ګورم ورته كړيږم په تيره بيا چې
كله يي خوله په خوله دچاسره وګورم زړه مې غواړي چيغې كړم چې
هوخلكو!!!دخداى لپاره تري لري شۍ هغه خوايي وغورځوۍمه يي ښكلوۍ په
شونډوكې يي زهردي.
خوويريږم چې څوك به مې خبره ونه منې ځكه زه څوك يم چې نوروته لارښود
شم؟!هرڅوك خپله عقل لري په خپلوښواوبدوښه پوهيږي ولې نه شي كولاى چې
تصميم ونيسي چې سګرټ وڅكوې يانه ؟!

لنډه
شپه ده
څراغونه دي مات شوې
هركوردي غله وهلې
دغله په لاس څراغ دي
خلك غل لټوي.